# ...اکونو وسلو ته سخته اړتیا لري

ایرنا آژانس لیکلي چې افغان ولسمشر محمد اشرف غني هم د امریکا له لوري اکراین ته د وسلو د ورکولو له پرېکړې سره مخالفت څرګند کړی او ویلي یې چې واشنګټن ته په خپل راتلونکي سفر کې به یې په دې اړه له امریکایي چارواکو سره وغږېږي. دا په داسې حال کې ده چې ناټو په افغانستان کې خپل دیارلس کلن پوځي ماموریت پای ته ورساوه او د قاطع ملاتړ په نوم نوی ماموریت یې پیل کړ چې تر ډېره به د افغان ځواکونو پر ملاتړ، مشورې او تجهیز متمرکز وي. له دې وړاندې نړیوالې ټولنې د شیکاګو په غونډه کې ژمنه کړې وه چې هر کال به افغان ځواکونو ته ۴.۱ میلیارده ډالر مرسته وکړي چې زیاته برخه به یې د امریکا له لوري وي. مخکې له دې ویل شوي وه چې، بېلې امریکا به افغانستان کې د شاوخوا اووه میلیارده ډالرو په ارزښت وسلې افغان ځواکونو ته پرېږدي خو په دې اړه یې په رسمي توګه څه نه وه ویلي. اخوا د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف د روسیې ایټرتاس آژانس ته ویلي چې، هېواد یې غواړي افغانستان ته د پوځي اکمالاتو لپاره یو موافقه لیک تیار کړي

Ketabton.com

# ...ت ته د ډېرې بودجې د بېلولو غوښتنه وشوه

دامنیت د تامینولو غوښتنه وکړه. دوی دغه راز زیاته کړه چې د انډولیزې ودې او د هېواد دیارلسو محرومو ولایتونو ته د زیاتې پاملرنې غوښتنه کوي او غواړي چې د بودجې په وېشلو کې مهم رول ولري. د ننګرهار او هرات د ولایتونو د ښځو د چارو ریاستونو د مشرانو په کچه د ښځو د دریځ د ټاکنې، د امنیت د تامینولو

غوښتنه وکړه. اجرائیه رییس د ښځو د چارو وزارت د مشرانو هیئت نظریو او وړاندیزونو ته له اورېدو وروسته له دوی سره ژمنه وکړه چې د دوی ستونزې او وړاندیزونه څېړي. اجرائیه رییس زیاته کړه چې د ملي وحدت حکومت به د ښځو د چارو له وزارت سره د مرستې د کافي بودجې د بېلولو او

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**